NO. 32.
Natives at
Ziarat -i-Hazratji.

۱٦م پليټ.
۳۲مه شمېره.
په زيارت کې د سيمې
د اصلي اوسېدونکو ډله.

پلیت ۱٦.
شماره ۳۲.
گروهی از مردمان بومی
در زیارت حضرت جی.





A City of Exchange

A five-part panorama of the city's western flank anchors the "Kandahar Album," illuminating the city's strategic connections with Herat and beyond, the rich emporia of Persia. A complementary view from the east, taken from above the Kabul Gate, brings to life trading around a caravanserai, revealing Qandahar's pivotal position in the north-south trade between Kabul and Quetta. The vibrant activity of Qandahar's bazaars, where local and regional business intersect, is captured in views of the Bardurani Gate and the Char Su, in which sheep and camels come to market and shoppers and merchants crowd the street stalls.

As a great center of commercial exchange serving practically all of Eurasia, Qandahar's bazaars not only brought together coveted commodities but also the people who carried them from near and far. The city's economic renown derives from the confluence of these communities, their varying beliefs, business practices, and market expertise. Thus, while Herati merchants specialized in the sale of Iranian carpets and silks, nomads on seasonal migrations bartered hides and metalwork, and Shikarpuri Hindus—who resided within their own quarter abutting the city's Shikarpur Gate—were known as the "bankers to the world."

PLATE 17.

NO. 13.

Karez Hill and
Kokoran, from a
Corner of Picket Hill.

۱۷م پلیټ.

۱۳مه شمېره.

د کاریز غونډۍ او کوکران،
د څار غونډۍ له یوې څنډې څخه.

پلیت ۱۷.

شماره ۱۳.

تپهٔ کاریز و کوکران،
از گوشهٔ تپهٔ پیکت.









PLATES 18–22.
NOS. 14–18.
Panorama Taken from Karez Hill Embracing Chilzina and the Murcha Pass.

له ۱۸–۲۲ پلیټونه.
له ۱۴–۱۸ مې شمېرې.
له کاريز تپې څخه اخيستل شوی پاناروماييي انځور، چې چهل زينه او د مورچې کوتل پکې رانغاړي.

پلیت‌های ۱۸ الی ۲۲.
شماره‌های ۱۴ الی ۱۸.
پانورامای برگرفته از تپهٔ کاریز چهل زینه و کوتل مورچه را به نمایش می گذارد.


B Simpson
36.



PLATE 23.
NO. 36.
Camels Coming out of
Bardurani Gate.

۲۳م پلیټ.
۳٦م شمېره.
له بردراني دروازې څخه،
اوښان د وتلو په حال کې.

پلیت ۲۳.
شماره ۳٦.
شترها در حال خارج شدن
از دروازۀ باردرانی.



PLATE 24.
NO. 55.
Afghan
Horse Dealers.

۲۴م پلیت.
۵۵مه شمېره.
افغان
آس پلورونکي.

پلیت ۲۴.
شماره ۵۵.
اسپ فروشان
افغان.




PLATE 25.
NO. 58.
A Beluchi Beggar.
“Dato Obolum Belisario”

۲۵م پلیټ.
۵۸م شمېره.
یو بلوڅ سوالګر.
“Dato Obolum Belisario”.

پلیت ۲۵.
شماره ۵۸.
یک گدای بلوچی.
“Dato Obolum Belisario”.





Opposing Tensions

The photographs gathered in this last section show the opposing forces at play in the late nineteenth century, revealing how the city's history has shaped its current regional and international position. Since 329 BCE, when the Macedonian conqueror Alexander III seized Qandahar, the city has been a fulcrum of politics and power, sought after by the great empires of Iran and South Asia for its strategic connection to Sind, Quetta, Kabul, and Herat, its rich agricultural resources courtesy of the Helmand and Arghandab Rivers, and its natural defenses. In 1761, Qandahar became a stronghold for the modern Afghan state when Ahmad Shah Durrani chose the city as the center of his burgeoning empire. Though the Afghan capital would shift to Kabul in 1772, upon Ahmad Shah's death, control of Qandahar remained of utmost importance for succeeding Afghan rulers.

Before their withdrawal from Afghanistan, the British briefly considered integrating Qandahar into their Indian Empire, in part as a buffer against Russian incursions into Central Asia. The future amir, Abdur Rahman Khan (r. 1880–1901), vehemently opposed this proposal. In his correspondence with British officials, he proclaimed that Qandahar is "the city of the reigning [Barakzai] family," and without it, "Afghanistan [would] lose its dignity." Qandahar, indeed, played a crucial role in Abdur Rahman's bid for the Afghan throne. In August 1881, when Ayub Khan had briefly captured the citadel, the amir's successful takeover of the city garnered him decisive political support across Afghanistan, ultimately leading to the reunification of the country.



PLATE 26.

NO. 30.

Group, Ayub's Ambassadors, Abdulla Khan Sitting on the Right, His Son on the Left, and Umrjan Sahib Zadah in the Center. The Last Named Is Said to Have Raised All the Ghazis against Us at Maiwand.

٢٦م پلیټ.

۳۰مه شمېره.

د ایوب خان د سفیرانو ډله، چې عبدالله خان په ښي اړخ، د هغه زوی په کیڼ اړخ، او عمرجان صاحبزاده په مرکزي برخه کې ناست دي. داسې ویل کېږي چې وروستني نومول شوي کس زمونږ پر وړاندې په میوند کې ټول غازیان راټول کړل.

پلیت ۲۶.

شماره ۳۰.

گروپ سفیران ایوب خان: عبدالله خان در سمت راست، پسرش در سمت چپ و عمرجان صاحب زاده در مرکز نشسته‌اند. گفته می‌شود فرد اخیرالذکر همهٔ غازی‌ها را علیه ما در جنگ میوند بسیج کرده است.





PLATE 27.
NO. 29.
Group of
Hazaras.

۲۷م پلیت.
۲۹مه شمېره.
د هزاره گانو دله.

پلیت ۲۷.
شماره ۲۹.
گروهی از هزاره‌ها.



PLATE 28.
NO. 33.
Group of
Parsiwans.

۲۸م پلیت.
۳۳مه شمېره.
د فارسیوانانو ډله.

پلیت ۲۸.
شماره ۳۳.
گروهی از پارسیوان‌ها.



PLATE 29.
NO. 34.
Group of
Timuris.

۲۹م پلیت.
۳۴مه شمېره.
د تیموریانو ډله.

پلیت ۲۹.
شماره ۳۴.
گروهی از تیموری‌ها.



PLATE 30.
NO. 11.
Tombs of
Hazratji and
Sher Ali's Father.

۳۰م پلیټ.
۱۱مه شمېره.
د حضرت جي او
امیرشیرعلي د پلار قبرونه.

پلیت ۳۰.
شماره ۱۱.
مقبره‌های حضرت جی
و پدر شیرعلی.



PLATE 31.
NO. 74.
Col. St. Johns's
Residence in
the City.

۳۱م پلیت.
۷۴مه شمېره.
په ښار کې د ډګروال
سنت جانس هستوګنځی.

پلیت ۳۱.
شماره ۷۴.
اقامتگاه دگروال سنت جان
در شهر قندهار.



PLATE 32.
NO. 30A.
Untitled [Relatives of Wali Sher Ali].

۳۲م پلیت.
۳۰مه شمېره.
بې سرلیکه [د والي شېرعلي خان خپلوان].

پلیت ۳۲.
شماره ۳۰ الف.
بدون عنوان [خویشاوندان والی شیرعلی خان].



Text in Dari and Pashto Translation



یادګاري ځایونه، چې د ښار له سترو استحکاماتو سره برابر ارزښت لري، عبارت دي له زیارتونو او نورو سپېڅلو ودانیو څخه، چې د ګرځنده زاهدانو او باندہ والو او کوچیانو لپاره غوره پناه ځایونه بلل کېږي او له ډېرمودې راهیسې دوی ته ځانګړې په زړه پورې والی لري.

د "کندهار البوم" کې د لاندې ځایونو منظرې او انځورونه موجود دي: د بابا ولي زیارت مقبره چې د ارغنداب غره په دره کې موقعیت لري او خورا مشهور آرام ځای دی. د حضرت جي زیارت او مړستون چې د بردراني دروازه چې د ښار په شمال ختیځه برخه کې موقعیت لري او یوه اجمالي کتنه د ارګ داخلي برخو ته دکوي، هغه ځای چې د کندهار والي به له خپلو مخاطبینو سره ځانګړې او عمومي جلسې او مجلسونه کول.

دغه انځورونه د البوم اطلاعاتي موخې څرګندوي چې د امپریالیستي تسخیر او د استعمار کرۍ لپاره د نقشو جوړولو پروژو لپاره د انځورګرۍ رول تري څرګندېږي. له ځایي لیدلوري څخه دوی په ډاګه کوي چې څنګه د ښار جوړ شوی چاپېریال د یادګار کولو په زړه پورې عملونو سره یوځای شوي دي، د سرپناه، ټولنې، او روحانیت لپاره د بنسټیزو بشري اړتیاوو په اړه د کندهاریانو غبرګونونه ثبتوي.په بدل کې یې عکسونه په ښکاره ډول پوښتنه کوي چې څنګه کندهاریانو د بدلون په دې شیبه کې د انګریزانو اشغال او د دوی مفکورې په یاد ساتلي دي، همدارنګه هغه تاریخونه افشا کوي چې سمدستي اعتراف او نور سپړنې ته اړتیا لري.

د مبادلاتو ښار

د "د کندهار البوم" کې موجود پینځه برخې پرله پسې پینوراما انځورونه له هرات او له هغه ور هاخوا د فارس له بډایه امپراتورۍ سره دکندهار ښار ستراتېژیک ارزښت په ګوته کوي. له ختیځ څخه یوه بشپړه منظره، چې د کابل دروازې له پاسه اخیستل شوې، د کاروانسرای په شاوخوا کې سوداګري څرګندوي، چې د شمال او سوېل په اړه د کابل او کویټې تر منځ د سوداګرۍ په برخه کې دکندهار د موقعیت پر اساسي رول ټینګار کوي. د بردراني دروازې او چارسو څخه اخیستل شوي انځورونه د کندهار د بازارونو له تحرکه ډک فعالیت ښیي، چیرته چې سیمه ییزه او منطقوي سوداګري سره نښلي. په انځورونو کې لیدل کېږي چې مېږې او اوښان بازار ته راوستل کېږي او هټیوال او سوداګر د سړکونو غاړې ته، په هټیو کې سره راټولېږي.

د کندهار بازارونو، د یوه عالي سوداګریز مرکز په توګه ټولې آسیا-اروپا ته خدمت کاوه، په دغو بازارونو کې نه یوازې د ضرورت وړ توکي راوړل کېدل بلکه یاد بازارونه د هغو خلکو د راټولېدو لامل هم کېده، چې له لرې او نږدې واټن څخه یې توکي راوړل. د دغه ښار اقتصادي شهرت د خلکو د ګڼې ګوڼې، د هغوی د بېلابېلو باورونو، سوداګریزو کړنو او د بازار له مهارتونو څخه سرچینه اخیسته. په پایله کې، په داسې حال کې چې هراتي سوداګرو د ایراني غالیو او وربښمو په پېر او پلور کې مهارت درلود، کوچیانو په موسمي لېږد کې د غواګانو او مېږو څرمنې له وسپنیزو توکو سره تبادله کولې او د شکارپور هندوان، چې د ښار شکارپور دروازې په محله کې ځای پر ځای شوي ول – د "نړۍ د صرافانو" په توګه شهرت موندلی و.

مخامخ تاوتریخوالي

هغه انځورونه چې په وروستۍ برخه کې راټول شوي دي، د نولسمې پېړۍ په ورستیو کې د مخالفو ځواکونو رول په ډاګه کوي چې څه ډول دغه ښار خپل اوسني سیمه ییز او نړیوال دریځ ته شکل ورکړی دی. کله چې په ۳۲۹ مخ زېږد کال کې د مقدونیې ستر فاتح دریم سکندر کندهار ونیوه، یاد ښار د سیاست او ځواک مرکز و. وروسته د ایران او سوېلي آسیا امپراتوریو په دې خاطر د کندهار د نیولو هڅې وکړې چې له کویټې، کابل او هرات سره یې ستراتېژیک تړاو درلود او د هیرمند او ارغنداب له سیندونو څخه په ګټې اخیستنې یې بډایه زراعتي زېرمې درلودې. په ۱۷۶۱م کال کې کندهار د افغان عصري دولت په یوه پیاوړي مرکز بدل شو، او احمدشاه دراني یاد ښار د پښتنو سیمه د مرکز په توګه د خپلې د پرمختګ په حال کې امپراتورۍ پلازمینه وټاکه. که څه هم په ۱۷۷۲م کال کې د احمدشاه تر مرګ وروسته د افغانستان پلازمینه کابل ته انتقال شوه، مګر بیا هم د افغان واکمنو د بریا لپاره د کندهار کنترول خورا مهم و.

بریتانیا له افغانستان څخه له وتلو وړاندې له هندي امپراتورۍ سره د کندهار د یوځای کېدو فکر کړی وه، چې په منځنۍ آسیا کې د روس په وړاندې د ډال په توګه کار تري واخلي. مګر، عبدالرحمن خان راټلونکي امیر (واکمني ۱۸۸۰–۱۹۰۱م) په کلکه له یاد وړاندیز سره مخالفت وکړ. له بریتانوي چارواکو سره د لیکنو په تبادله کې نوموړي ادعا وکړه، چې د "کندهار ښار د [بارکزیانو] سلطنتي کورنۍ پورې اړوند دی، او بې له دې به "افغانستان [کېدای شی] خپل وقار او حیثیت له لاسه ورکړي." په حقیقت کې کندهار د عبدالرحمن خان واکمنۍ ته د رسېدو په ټاکنه کې اساسي رول لوبولی دی. د ۱۸۸۱م کال په آګست کې کله، چې ایوب خان د لنډ مهال لپاره د کندهار ارګ په خپله ولګه کې راوست، د امیر عبدالرحمن خان لخوا په بریالۍ توګه د ښار نیونه په ټول افغانستان کې له هغه څخه د پرېکنده سیاسي ملاتړ لامل شو او په پای کې په هېواد کې د یووالي سبب شو.

تر کلابندۍ لاندې ښار

که څه هم چې د کندهار جګړه د بریتانوي ځواکونو لپاره بشپړه بریا نه وه، مګر د ۱۸۸۰م کال محاصرې په کندهار کې ستره ګډوډي رامنځ ته کړه. کله چې د بریتانوي-هند سرتېرو د کندهار کلا پناه یوړه، نو د ښار دولس زره افغان اوسېدونکي د خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ شول. د ښار معماري هم له ناځاپي او بې ساري بدلونونو سره مخ شوه. بریتانویانو د ښار ټولې ودانۍ له خارو سره خاورې کړې، د قوماندې نوي پوستې یې رامنځ ته کړې، د ارګ له شان او شوکت ډکه سیمه یې د اړیکو په مرکز بدله کړه، د ښار تاریخي دروازې یې له شګو په ډکو بوجیو وپوښلې او د ارګ بهرنۍ کندې یې په اغزن تار غښتلې کړې.

د "کندهار البوم" کې موجود انځورونه په ورځني ژوند د یادو ګډوډیو اغېزو ته نغوته کوي. د توپخانې منظره چې په شالید کې یې د احمدشاه بابا مقبره له ورایه ښکاري، د کندهار ارګ ته د ننوتلو لار ښیي، چې له نظامي خیمو او توپخانو مالا مال ده. دغه صحنه د ارګ د داخلي محوطې د انځور اخیستلو لپاره پیلامه ګڼل کېږي، چیرته چې د مانۍ د څو پوړیزه ودانیو په فضا کې بې شمېره بهرني افسران او د (سیګنالینګ) وسایل تر سترګو کېږي. له دېوالونو نه بهر د ختیځ او لوېدیځ پراخې منظرې د کندهار د پای ته رسېدلې جګړې حساسې شېبې را په زړه کوي. دغه انځورونه د دوه برخې لرونکو منظرو (پاناروما) پراخوالی څرګندوي، هغه دا چې د کندهار شمالي برخه په کې را نغاړل شوې ده. دا یو په زړه پورې ترکیب دی، چې د هدیرې په ګډون یې کلتوري او نورې ودانۍ رانغاړلې دي.

دېوال شوی ښار

احمدشاه دراني (۱۷۴۷–۱۷۷۲م) په ۱۷۶۱م کال کې د کندهار د عصري ښار بنسټ کېښود. دغه لوی ښار د پوپلزیو په پراخه ځمکه، چې د زاړه کندهار ارګ ته څېرمه موقعیت لري، جوړ شو. نوموړی ښار د هغه له هیلو سره سم چې د پرمختللي افغانستان لپاره یې درلودې، په چټکۍ سره د یوه غښتلي سوداګریز او سیاسي فعالیت په مرکز بدل شو.

دغه ښار په نولسمه پېړۍ کې د استحکاماتو په درلودلو سره خورا ډېر شهرت درلود. ددې ښار د تاریخي دېوالونو لوړ والی په متوسط ډول ۸ متره، په بنسټ کې یې سور ۹ متره او په پاس سر کې یې سور ۴.۵ متره دی. یادو دېوالونو د ۴.۸ کیلو متره په اوږدوالي سره مستطیلي احاطه درلوده چې په هر ګوټ کې د دایروي برجونو په واسطه ګڼل شوي وه. دغو دېوالونو یوه حیرانوونکې کلا رامنځ ته کړې وه، چې د ۷ متره کندې په واسطه احاطه شوې وه او شپږ سترې دروازو یې درلودې: په شمال کې د عیدګاه دروازه، په سویل کې د شکارپور دروازه، په لوېدیځ کې د هرات او توپخانې دروازې، او په ختیځ کې د بر دراني او کابل دروازې، دي. دغه دروازې په اصل کې د هغو ښارونو په نومونو یادېدې کوم چې د کندهار ښار پر وړاندې پراته و او اصلي لارو او بازارونو ته چې د کندهار ښاري بافت یې په څلور کنجه بڼه تنظیم کړی وو، د ورتګ زمینه برابره کړې وه. له هغې ډلې څخه د هرات، شاه او شکارپور بازارونه و، چې د ښار په پلازمېنه کې د چارسو لاندې موقعیت درلود.

د کندهار د ښار استحکامات په ۱۹۴۰م کلونو کې په ختیځ او سوېل ختیځو برخو کې له یوې ورې استثنا پرته ټول ویجاړ شول. له دې سره سره پخوانیو دېوالونو او دروازو د تېر په څېر په ښاري پلان خپل اغېز درلود، چې له اتلسمې پېړۍ څخه تر اوسه پورې یې بدلون نه دی موندلی.

تلپاتې منظرې

د کندهار کلابند شوی ښار چې د اتلسمې پېړۍ په وروستیو کې د احمدشاه دراني لخوا جوړ شوی و، د تاریخي تمدن د مرکز په توګه د دې سیمې اهمیت څرګندوي. په "کندهار البوم" کې د تاریخي ځایونو او ابداتو کوچنی انتخاب د کندهار په دوامداره کلتوري اهمیت ټینګار کوي او د ښار لپاره د خورا اوږد تاریخي مهالوېش څرګندوي.

د لرغوني کندهار انځورونه چې د قایتل غونډیو لړۍ او د سیمې د حاکمو دښتو ترمنځ پروت دی، د هخامنشیانو له وخت راهیسې (تر میلاد مخکې له شپږمې تر څلورمې پېړۍ) د قدرت او مذهب له پلوه د تاریخي ځای په توګه د کندهار پر موقیعت ټینګار کوي. دغو انځورونو د ارګ بنسټ او ورسره څېرمه د قایتل غونډۍ، چې په اتمه پېړۍ کې په سیمه کې د بودایي دین مرکز و، ثبت کړي دي. د چهلزینې او احمدشاه بابا د زیارت منظرې، چې د منځنۍ او سوېلي آسیا په ښلولو کې د کندهار پر بنسټیز رول بانديې ټینګار کوي: په داسې حال کې، چې چهلزینه، ډبرلیک لرونکی کیندل شوی طاق (یادګاري تاخچه)، په هند کې د تیموریانو د شاهزاده بابر، چې د مغول امپراتورۍ بنسټ یې کېښود، د پوځي بریاوو یادونه کوي، لیکن، د احمدشاه بابا د مقبرې معماري په ایران او منځنۍ آسیا کې د ګمبزې جوړولو له جلال نه د ډک دود اوږده مخینه په ګوته کوي. د خرقې شریف انځور، چې د کندهار د شمالي برخې په زړه کې موقیعت لري هغه زیارت راښیي چې د حضرت محمد (ص) خرقه مبارک په کې ساتل کېږي. خرقه مبارک یو سپېڅلی اثر دی چې د احمدشاه بابا لخوا راوړل شوی اوکندهاریې په اسلامي نړۍ کې د یوه مذهبي ځای په توګه مشهور کړی دی.

یادپاتې ودانۍ

زیارتونه، مقبرې او مانۍ د کندهار د منظرې او فرهنګي جوړښت بنسټیزه برخه جوړوي. د کندهار خلک، شخصیتونه، د سپېڅلو او مشهورو شخصیتونو کره وره او سیمه ییز مشران لمانځي. متولیان د سپېڅلو آثارو، شاهي کورنۍ او سیاسي خاندان د غړیو د مقبرو د ځای ساتونکو په توګه خدمت کوي. دغه

د نندارتون متنونه

اپرنا کمار

د افغان-انګلیس دویمې جګړې (۱۸۷۸–۱۸۸۱) د کندهار ښار لپاره، چې تاریخي استحکامات او شاوخوا سیمې یې د افغان-بریتانوي هند تر منځ د جګړې په بنسټیز مرکز اوښتې وې، ستړې پایلې درلودې.

د بریتانویانو له آنده د کندهار او سویلي افغانستان کنټرول په هند کې د دوی د امپراتورۍ د پالیسیو د دوام دپاره ورکاوه او په منځنۍ آسیا کې یې د روسیې د لا نورو یرغلونو پر وړاندې یوه حایله سیمه رامنځ ته کاوه. د افغانستان تاج او تخت د بیا ترلاسه کولو او د بهرنیانو د مداخلې د مخنیوي په موخه، ایوب خان د هرات والي او د خدای بښلي امیر شیرعلي خان زوی په ۱۸۸۰م کال د جولای په میاشت د کندهار ښار کلابند کړ. نوموړي په میوند کې د بریتانوی-هند پر پوځ تر پرېکنده بریا وروسته د ارغنداب په دره کې پوځي اډه جوړه کړه او د ده خوجه له ګاوند کلي څخه یې پر کندهار یرغل پیل کړ. دا په داسې حال کې ده چې بریتانوي سرتېري په دېوال شوي ښار (ارګ) کې بیا سره راټول شول. که څه هم په ده خوجه سیمه باندې د بریتانوي پوځ د یرغل ناکامې هڅې په کندهار کې تر محاصرې لاندې بریتانوي ځواکونو باندې د افغانانو فشار ډېر کړ. مګر په ۱۸۸۰م کال د آګست په میاشت کې له کابل څخه د بریتانوي مرستندویه ځواکونو ګړندي راتګ د ایوب خان د پرمختګ مخه ډب کړه.

دغه نندارتون؛ لکه څرنګه چې پر پښتي باندې یې لیکل شوي هم دي، "د کندهار البوم" د انځورونو کاپي ده، ټولټال ۴۲ انځورونه لري چې د بریتانوي طبي افسر بنیامین سیمپسون لخوا په (۱۸۳۱–۱۹۲۳) کال کې اخیستل شوي چې له خطرناکې مقابلې وروسته د ښار پاتې شونې حالت د یادګار په ډول ساتي. له یوې خوا په انځورونو کې د بریتانوی او هندي افسرانو یوه ډله ښکاري چې له محاصرې څخه د ژوندي پاتې شویو کسانو لپاره د جشن مراسم تر سره کوي، خو په مقابل اړخ انځورونو کې د ایوب خان د پلاوی، ځایي اوسېدونکي او د کوچیانو ګروپونه تر سترګو کیږي. د ښار د دېوالونو له پاسه اخیستل شوي انځورونه په کندهار کې د بریتانوي هند د توپخانو، استحکاماتو او سنګرونو پراختیا ښیي. هغه انځورونه چې د بریتانوي پلي ځواکونو له لیدلوري اخیستل شوي دي، د جګړې ښلابښلې اقلیمي شیبې را ښکاره کوي، چې د کندهار خوا وشا تاریخي سیمو لکه: د ارغنداب دره، د بابا ولي کوتل، د ده خوجه کلی، ارګ او د احمدشاه زیارت ته درناوی، څرګندوي. دا انځورونه له یوې خوا د افغان-انګلیس د دویمې جګړې په اړه د ناسمو انځورونو په وړاندې کولو سره یاده جګړه کې د بریتانوي پوځ پرېکنده بریا څرګندوي، چې دغه کار د اروپایي استعمار په خپرولو کې د انځورګرۍ رول ته لاره پرانیزي. له بله پلوه یاد انځورونه د انګرېزانو لخوا د کندهار د نیونې او بریتانوي سرتېرو د لاسوهنې اغېزې او د ښار او خلکو مقاومت په اړه کیسې بیانوي، چې د استعمار او نړیوال کېدونکي ځواک ترمنځ را ګیر شوي و.

"آلبوم قندهار" عکس های از زیارت بابای ولی– مقبره و خلوتگاه محلی مشهور – که در کوه های مشرف به درهٔ ارغنداب قرار دارد؛ همچنان عکس های زیارت حضرت جی – مقبره و مجتمع تدفینی – واقع در شمال شرقی دروازهٔ بردرانی شهر قندهار را در خود جای داده و نگاه اجمالی بر ساحات داخلی ارگ مجلل که در آن والی قندهار جلسات خصوصی و عمومی را با مخاطبان برگزار می کرد، انداخته است.

این عکس ها اهداف اطلاعاتی این آلبوم را نشان داده و نقش عکاسی را در پروژه های تسخیر امپریالیستی و نقشه برداری استعماری برجسته می کنند. از دید محلی، این عکس ها آشکار می سازند که چگونه محیط معمور شهر با ثبت پاسخ های یک فرد قندهاری در مورد نیازهای اساسی بشر به پناهگاه، جامعه و معنویت، توسط اقدامات فجیع یادبود به هم متصل می شود. به نوبهٔ خود، این عکس ها به طور تلویحی می پرسند که چگونه قندهاری ها در این لحظهٔ تغییر، اِشغال قندهار توسط بریتانوی ها و برداشت خویش را از این واقعه به یاد می آوردند، و همچنان حوادثی را که به تأیید و تحقیقات بیشتر نیاز دارند، آشکار می سازند.

شهری مبادلات

یک تصویر پنج بخشی از جناح غربی شهر قندهار در "آلبوم قندهار"، ارتباطات استراتژیک این شهر را با هرات و فراتر از آن، امپراتوری غنی فارس نشان می دهد. یک نمای کامل از شرق، که تصویر آن از بالای دروازهٔ کابل گرفته شده است، نشاندهندهٔ تجارت و داد و ستد در اطراف یک کاروانسرای می باشد و موقعیت مهم و کلیدی قندهار را در تجارت شمال و جنوب بین کابل و کویته نشان می دهد. فعالیت پر جنب و جوش بازارهای قندهار، جایی که تجارت محلی و منطقه ای با یکدیگر تلاقی می کند، در عکس های دروازهٔ بردرانی و چارسو، که در آن گوسفندان و شترها به بازار آورده می شوند و خریداران و بازرگانان در اطراف غرفه ها گرد آمده اند، به تصویر کشیده شده است.

بازارهای قندهار به عنوان یک مرکز عالی مبادلات تجاری که عملاً به تمام نقاط اوراسیا خدمت می کرد، نه تنها کالاهای مرغوب و مورد ضرورت، بلکه همچنان افرادی که مال التجاره را از نقاط دور و نزدیک انتقال می دادند را نیز گردهم می آوردند. شهرت اقتصادی این شهر از تلاقی جوامع مختلف، اعتقادات مختلف آنها، شیوه های تجاری و تخصص بازار ناشی می شود. در نتیجه، در حالیکه تاجران هراتی در فروش فرش و ابریشم ایرانی تخصص داشتند، کوچی ها در هنگام مهاجرت های فصلی به مبادلهٔ چرم گاو و گوسفند با اشیای فلزی می پرداختند و هندوان شکارپوری – که در محلهٔ هندوها در نزدیکی دروازهٔ شکارپور در این شهر سکونت داشتند – به عنوان "بانکداران جهان" شناخته می شدند.

تنش های متقابل

عکس های که در بخش آخر جمع آوری شده است، نیروهای مخالف را که در اواخر قرن نوزدهم نقش بازی می کنند، به تصویر کشیده است و نشان می دهد که چگونه تاریخ این شهر، موقعیت فعلی منطقه ای و بین المللی آن را شکل داده است. از سال ۳۲۹ قبل از میلاد، هنگامی که اسکندر سوم فاتح مقدونیه ای، قندهار را تصرف کرد، این شهر کانون سیاست و قدرت بود. سپس، امپراتوری های بزرگ ایران و جنوب آسیا در پی تسخیر این شهر به دلیل ارتباط استراتیژیک آن با سند، کویته، کابل و هرات، و به خاطر منابع غنی کشاورزی آن به برکت دریاهای هلمند و ارغنداب و استحکامات دفاعی طبیعی آن، بر آمدند. در سال ۱۷۶۱ میلادی، زمانی که احمد شاه درانی شهر قندهار – امیرنشین پشتون را به عنوان مرکز امپراتوری در حال گسترش خویش انتخاب کرد، این شهر به پایگاهی مستحکم برای دولت مدرن افغانستان تبدیل شد. هرچند، بعد از وفات احمد شاه بابا پایتخت افغانستان در سال ۱۷۷۲ میلادی به کابل انتقال یافت، اما کنترل قندهار برای حاکمان بعدی افغانستان از اهمیت بسیار بالایی برخوردار بود.

بریتانوی ها قبل از خروج نیروهایش از افغانستان، برای مدت کوتاهی ادغام قندهار را با امپراتوری هند خود، بعنوان یک زون حائل در برابر حمله روسیه به آسیای میانه در نظر گرفت. اما عبدالرحمن خان، امیر آیندهٔ افغانستان (حاکمیت ۱۸۸۰–۱۹۰۱ میلادی) به شدت با این پیشنهاد مخالفت کرد. وی در مکاتبات خود با مقامات بریتانوی اظهار داشت که قندهار "شهر خانوادهٔ سلطنتی [بارکزایی]" است و بدون آن "افغانستان منزلت و شأن خود را از دست [خواهد] داد". در حقیقت قندهار در رسیدن امیر عبدالرحمن خان به سلطنت افغانستان نقشی اساسی بازی کرد. در ماه آگست، سال ۱۸۸۱ میلادی، هنگامی که ایوب خان برای مدت کوتاهی ارگ قندهار را تصرف کرد، تسخیر موفقیت آمیز این شهر توسط امیر عبدالرحمن خان سبب پشتیبانی قاطع سیاسی از وی در سراسر افغانستان شد و در نهایت منتج به اتحاد مجدد کشور گردید.

های تاریخی شهر را با کیسه های ریگ پنهان کرده و سنگرهای بیرونی خویش را با پیچانیدن سیم ها تقویت نمودند. عکس های "آلبوم قندهار" به تأثیرات این اختلالات بر زندگی روزمره اشاره دارد. نمایی از میدان توپخانه که مقبرهٔ احمد شاه بابا در پس زمینهٔ آن دیده می شود، ورودی ارگ قندهار را پوشیده از خیمه های نظامی و توپخانهٔ بریتانوی نشان می دهد. این منظره مقدمه ای است برای عکسهای داخلی محوطهٔ ارگ است، جایی که ایوان های چندین طبقه ای ارگ مملو از افسران و تجهیزات علامت دهی (سیگنالینگ) خارجی است. مناظر گستردهٔ شرق و غرب در بیرون از دیوارها، یادآور لحظات حساس جنگ پیشین قندهار می باشد. اینها عظمت یک منظرهٔ دو قسمتی را برجسته می سازند که بخش شمالی قندهار را نشان می دهد، و این امر ترکیبی خارق العاده است که قبرستان شهر را با دیگر نشانه های فرهنگی در بر می گیرد.

شهری محصور

احمد شاه درانی (حاکمیت ۱۷۴۷–۱۷۷۲) شهر مدرن قندهار را در سال ۱۷۶۱ میلادی تأسیس کرد. این شهر بزرگ بر زمین وسیعی پوپلزایی ها در مجاورت ارگ قدیمی قندهار ساخته شد بود، به سرعت به مرکز قوی فعالیت های تجاری و سیاسی تبدیل شد که در خور آرزوهای در حال رشد او برای دولت مدرن افغانستان بود.

این شهر در قرن نوزدهم میلادی به دلیل داشتن استحکامات از شهرت بسزایی برخوردار بود. دیوارهای عظیم آن به طور متوسط ۸ متر ارتفاع، پایه های آنها ۹ متر و قسمت های بالایی آنها ۴.۵ متر عرض داشت. دیوارهای مذکور، دهانه های مستطیل شکل ۴.۸ کیلومتری داشت که توسط برج های مدور در هر چهار گوشه به هم متصل گردیده بودند. این دیوارها که قلعه ای عالی را تشکیل میداد، توسط خندقی به عرض ۷ متر احاطه شده و دارای شش دروازهٔ بزرگ بود: دروازهٔ عیدگاه در شمال، دروازهٔ شکارپور در جنوب، دروازه های هرات و توپخانه در غرب و دروازه های بردرانی و کابل در شرق. این دروازه ها عمدتاً به اسم شهرهایی که به آنها روبرو بودند نامگذاری گردیده بود و از عبور و مرور به گذرگاه‌ها و بازارهایی اصلی که بافت شهری قندهار را به ربع‌ها تراشیده بودند، محافظت می کردند. در میان آنها بازارهای هرات، شاه و شکارپور بودند که زیر چارسو در مرکز شهر قرار گرفته بود.

استحکامات قندهار، به استثنای بخش های کوچکی در سمت شرق و جنوب شرقی، در دهه ۱۹۴۰ میلادی تخریب شد. با این حال، دیوارها و دروازه های سابق آن همچنان در طرح شهری این شهر که عمدتاً از قرن هجدهم بدون تغییر باقی مانده است، اثر خود را بر جای می‌گذارند.

مناظر ماندگار

شهر محصور قندهار که توسط احمد شاه درانی در اواخر قرن هجدهم ساخته شده است، بیانگر اهمیت این منطقه به عنوان مهد تمدن از دوران ماقبل تاریخ است. عکس های اندک از ساحات و آبدات تاریخی در "آلبوم قندهار" بر اهمیت فرهنگی ماندگار قندهار تأکید ورزیده و نشاندهندهٔ یک جدول زمانی تاریخی طولانی تر برای این شهر می باشد.

عکس هایی از قندهار قدیم که بین کوه قبطول و دشتهای این منطقه قرار گرفته است، بر موقعیت آن به عنوان مکان تاریخی قدرت و مذهب از زمان هخامنشیان (قرن ششم تا چهارم قبل از میلاد) تأکید می ورزد. این عکس ها تهداب ارگِ با شکوهی که زمانی در این منطقه قرار داشت و استوپهٔ همجوار قبطول که مرکزی برای آیین بودایی طی قرن هشتم میلادی در این منطقه بود را ضبط نموده است. نماهای چهل زینه و مقبرهٔ احمد شاه بابا بر نقش مهم قندهار در اتصال آسیای مرکزی و آسیای جنوبی تأکید می ورزد: در حالی که چهل زینه، یک رواق کتیبه دار (یا ایوان یادبودی)، یادآور پیروزی های نظامی بابر – شاهزاده تیموری – در هند است، که امپراتوری مغول را بنیان گذاشت، معماری مقبرهٔ احمد شاه بابا نمایانگر سنت دیرینه و باشکوه مقبرهٔ گنبد دار است که در ایران و آسیای میانه مروج بود. تصویر خرقهٔ شریف، واقع در مرکز ناحیهٔ شمالی قندهار، زیارتی را نشان می دهد که خرقهٔ مبارک حضرت محمد (ص) را در خود جای داده است. خرقهٔ مبارک یک اثر مقدس است که به دستور احمد شاه بابا از فیض‌آباد به قندهار منتقل شد و این شهر را به عنوان یک مکان زیارتی در جهان اسلام مشهور گردانید.

بناهای یادمانی

زیارتگاه ها، مقبره ها و قصرها بخش اساسی از بافت و منظر (لندسکیپ) فرهنگی قندهار را تشکیل می دادند. آنها از شخصیت ها و اعمال و کردار افراد پرهیزگار و مشهور و رهبران محلی تجلیل می نمایند. آنها به عنوان نگهدارندگان آثار مقدس، محلِ دفن افراد خانوادهٔ سلطنتی و دودمان سیاسی خدمت می کردند. این مکان‌های یادبود به عنوان وزنه‌ای در برابر استحکامات تاریخی شهر، مکان‌های زیاتی و پناهگاهی را برای گروه‌های زاهدان دوره گرد و مردم کوچی جذاب نشان می‌داد. این بناهای یادبودی که به مثابه وزنه ای برابر با استحکامات تاریخی شهر بودند، مکانهای زیارتی و پناهگاهی را که از دیر زمانی برای گروه های درویشان دوره گرد و کوچی ها جذابیت خاص داشتند نشان می داد.

متون نمایشگاه

آپارنا کومار

جنگ دوم افغان-انگلیس (۱۸۷۸–۱۸۸۱) برای شهر قندهار که استحکامات تاریخی و چشم انداز اطراف آن به مرکز اصلی درگیری بین نیروهای افغان و هند بریتانوی تبدیل شد، پیامدهای عظیمی داشت. از دید بریتانوی ها کنترل قندهار و جنوب افغانستان تداوم سیاست های امپراتوری آنها را در هند تضمین کرده و یک منطقهٔ حائل در برابر تهاجم بیشتر روسیه به آسیای میانه ایجاد می کرد. ایوب خان، والی هرات و فرزند امیر شیرعلی خان فقید، در تلاش برای بازپس گیری تاج و تخت و رهایی افغانستان از مداخلات خارجی، قندهار را در ماه جولای، سال ۱۸۸۰ محاصره کرد. ایشان پس از پیروزی قاطع بر ارتش هند برتانوی در میوند، در درهٔ ارغنداب خیمه زدند و در حالی که نیروهای بریتانوی در قلعهٔ محصور در شهر قندهار دوباره جمع شده بودند از روستای همجوار ده خوجه بالای قندهار حمله کرد. هرچند عملیات ناکام نیروهای بریتانوی بالای روستای ده خوجه فشار افغان ها را در ابتدا علیه نیروهای بریتانوی تحت محاصره در قندهار تشدید کرد. اما، رسیدن سریع قوای کمکی بریتانوی از کابل در ماه آگست سال ۱۸۸۰ میلادی پیشرفت ایوب خان را متوقف کرد.

این نمایشگاه که بازتولید تصاویر از "آلبوم قندهار" در آن به نمایش گذاشته شده است – طوریکه روی جلد آن نوشته شده است – مجموعه ای از هفتاد و دو عکس است که توسط افسر طبی بریتانوی بنام بنیامین سیمپسون (۱۸۳۱–۱۹۲۳) گرفته شده است و وضعیت این شهر را در دوران پس از این درگیری حساس نشان می دهد. این تصاویر، در یک طرف، گروهی از افسران بریتانوی و هندی را نشان می دهد که از بازماندگان محاصره تجلیل می نمایند و در مقابل پرتره های است که هیئت ایوب خان، ساکنان محل و گروه های کوچی را نشان می دهد. مناظر از بالای دیوارهای شهر، گستره توپخانه و استحکامات بریتانوی را در قندهار نشان می دهد. عکس هایی که از دید یک پیاده نظام بریتانوی گرفته شده است، مهم ترین لحظات جنگ را نشان داده و از ساحات و آبدات تاریخی مهم در اطراف قندهار از جمله درهٔ ارغنداب، کوتل بابای ولی، قریهٔ ده خوجه، ارگ و مقبرهٔ احمد شاه بابا تجلیل به عمل می آورد. ا این تصاویر از یک سو تصویر گمراه کنندهٔ از جنگ دوم افغان-انگلیس ارائه کرده و آن را بعنوان پیروزی قطعی برای بریتانوی ها قلمداد می کند، که این امر نقش عکاسی را در گسترش استعمار اروپایی نشان می دهد. از سوی دیگر، نفوذهای اشغال قندهار توسط بریتانوی ها را آشکار می کنند و از پایداری شهر و مردمی که بین نیروهای جدا نشدنی استعمار و جهانی شدن گرفتار شده اند صحبت می کنند.

شهری تحت محاصره

اگر جنگ قندهار پیروزی کامل برای بریتانوی ها نبود، اما محاصرهٔ سال ۱۸۸۰ میلادی یک اختلال عظیم در قندهار ایجاد کرد. هنگامی که نیروهای هند بریتانوی در قلعهٔ قندهار پناه بردند، در حدود دوازده هزار تن از باشندگان این شهر از خانه های خود آواره شدند. معماری شهر نیز با تغییرات ناگهانی و بی سابقه ای روبرو گردید. نیروهای بریتانوی تمام ساختمان ها را با خاک یکسان کردند، پُسته های فرماندهی جدیدی ساختند، ساحات مجلل ارگ را به مرکز ارتباطی تبدیل کردند، دروازه

اخیستو لـه وېرې دوی د ښـار شـاوخوا ۱۲۰۰۰ اوسـېدونکي لـه ښـاره ووېسـتل،[۴] کېـدای شـي دغه په ښکاره د دې دلیـل وي، چې ولـې پـه انځورونـو کـې یـوازې هغـه افغانـان راغلـي دي، چـې پـه مزاکراتـو کـې یـې د ایـوب خـان اسـتازیتوب کاوه (۳۰ شـمېره، ۲٦ پلیـټ وګـورئ) او یـا هـم د شـیرعلي خـان خپلـوان و، (۳۰ الـف شـمېره، ۳۲ پلیـټ وګورئ)، چـې د انګلیس لخـوا ځای پر ځـای شـوی والـي و. پـه بـل عبـارت، د ځایـي اوسـېدونکو یـو څو ګروپـي انځورونـه، چـې تمرکز یې پـه هزاره ګانو (۲۹ شـمېره، ۲۷ پلیـټ وګـورئ)، فارسـیوانانو (۳۳ شـمېره، ۲۸ پلیـټ وګـورئ)، او تیموریانـو (۳۴ شـمېره، ۲۹ پلیـټ وګـورئ)، یـا افغـان اس پلورنکو (۵۵ شـمېره، ۲۴ پلیـټ وګـورئ)، یـو بلوڅ چـې د خیرات غوښـتنه کـوي (۵۸ شـمېره، ۲۵ پلیـټ وګـورئ)، یـا پـه زیـارت کـې د سـیمې د اصلي اوسـېدونکي (٦۱ شـمېره، ۱٦ پلیټ وګورئ)، ښـیي. د دغو افغـان لړکیـو لـه انځورولـو کېدای شـي د سیمپسـون پـه ذهن کې باسـواده بریتانـوي مخاطبـان را ګرځېدلـي وي، چې د یـادو لړکیو مرسـتې، چـې لـه دوی سـره یـې د افغان-انګلیـس پـه لومـړۍ جګـړه کـې کـړې وې، ور پـه زړه کـړي.

د ښـار شـاوخوا هـر طـرف تـه پراخـې منظـرې، همدارنګـه د ښـار دېوالونـو طـرف تـه منظـرې د راتلونکـو پلانونـو او ښـکېلتیا پـه موخـه د ښـار د نقشـه کولـو پـه خاطـر اخیسـتل شـوې وې. لـه قندهـار څخـه د سیمپسـون انځورونـه د نومـوړي د پخوانیـو اتنوګرافیکـي آثـارو لـه انځورونـو څخـه توپیر ښـیي، چـې کېدای شـي د رسـمي وړاندیـز پـر اسـاس وي او یـا دا، چـې نومـوړي د افغانسـتان د سـویل لـه ضمیمـه کولـو سـره دلچسـپي درلـوده.

پـه سـویلي سـیمو کـې، کندهـار د سـوداګرۍ مځکښ مرکز و او ډېـرې بریتانوییانـو د هنـد پـه نیمـه لویـه وچـه کـې د خپـل واک د سـاتلو لپـاره اړیـن ګڼل.[۵] د نولسـمې پېړۍ لـه پیـل راهیسـې بریتانـوي وایسـرا او هند حکومت په منځنۍ آسیا کې د روسیې لـه نفـوذ څخـه پـه وېـره کـې و، چـې تـر ۱۸۷٦ کال پـورې یـې د کابـل پـه شـمال کـې خپـل سـرحد تـر دوه سـوه میلـه پـورې را مـخ تـه کـړ.[٦] د دې موضـوع د مقابلـې پـه خاطـر پـه پارلمـان کـې محافظـه کار ګونـد "د وړانـدې تللـو سیاسـت" څخـه ملاتـړ وکـړ. د دې کار "تـر ټولو پیاوړی مدافع" او طرفدار سـرهنري راولینسـن د لـر افغانسـتان لپـاره د بریتانیـې پخوانـی سیاسـي اسـتازی او وروسـته د شـاهي جغرافیـې ټولنـې رئیـس و.[۷] او د دې موضـوع بـل طرفـدار لارډ اډوارډ بولور-لیټـن و، چـې د ۱۸۷٦ او ۱۸۸۰ کلونـو تـر منـځ د هنـد وایسـرا و. د افغان-انګلیـس د دویمـې جګـړې پـه لومړیـو کلونـو کې، لیټن د افغانسـتان د بشـپړ اشـغال لپـاره دلایل وړانـدې کـړل، مګـر د یـوه کال پـه بهیـر کـې نومـوړی او اغېزنـاک ملګـري یـې دې پایلـې ته ورسـېدل، چې افغانسـتان بایـد په برخو وویشـل شـي، په داسې حال کې چې کندهـار له بریتانـوي ځواک

سـره هماغـسې پـه ولکـه کـې پاتـې شـي.[۹] کـه څـه هـم د ۱۸۸۰ کال پـه اپریـل کـې پـه پارلمان کـې لیبـرال حکومت رامنځ تـه شـو، چې ټینګار یـې کاوه، چـې پـه قندهار کـې میشـت بریتانـوي ځواکونه بایـد هندوسـتان تـه راسـتانه شـي، مګـر، محافظـه کار ګونـد حتی د افغان-انګلیـس د دویمـې جګـړې پـه پـای کـې لاهـم پـه دې نظر و، چـې بایـد بریتانـوي ځواکونـه پـه قندهـار کـې پاتـې شـي.[۱۰] آیـا امـکان لـري، چـې دغـه احسـاس د دې انګیـزې سـبب شـوی وي، چـې یـاد انځورونـه رامنـځ تـه شـي؟ د قندهـار پـه اړه د شـاهي جغرافیـې ټولنـې د غړیـو لخـوا خپـاره شـوي موضوعـات دغـه ګمـان لا غښـتلی کـوي. هېـره دې نـه وي چـې د "قندهـار البـم" کاپـي د شـاهي جغرافیـې پـه ټولنـه کـې سـاتل شـوې ده.[۱۱]

کـه څـه هـم، دغـه البـم پـه څرګنـده توګـه د قندهـار جګـړه ثبـت کـړې، لیکـن د البم پـای او په پرلـه پسـې (پاناروما) منظـرو ټینګار د دې ښـکارندوویي کـوي، چـې دا د نظامي اسـتخباراتو سـند دی، چـې ډېـری نـورو رسـمي راپورونـو تـه ورتـه د دولتـي چاپخونـو پـه واسـطه چـاپ شـوی دی.[۱۲] پـه حقیقـت کـې لـه آخـره دویـم انځـور (یـو اویایـم انځـور) د ډګروال سـنت جـان یاد ښـیي، چې د بریتانیـې د ښـکېلاک پـه وخـت کـې پـه قندهـار کـې د بریتانیې تـر ټولـو لوړپـوړی سیاسـي افسـر و، چـې د افغانـي رهبرانـو او پـه هنـد کـې د بریتانـوي وایسـرا ترمنـځ پـه اړیکـو کـې یـې خورا مهـم رول لوبولـی، چـې پـه پای کې یـې د قندهـار د جګـړې پایله وټاکلـه. د دغـه انځـور شـاتې لـه ټیـټ موقعیـت څخـه اخیسـتل شـوی دی، ترڅـو د سـنت جـان حیرانونکـی اسـتوګنځای وښـیي، چـې د صحنـې مخ ته د کـور کارکوونکي، او ښـي خوا کې سـینټ جـان د کمـرې مـخ تـه د انځـور لپـاره بـوخ شـوی دی (۴۷ شـمېره، ۳۱ پلیـټ وګـورئ). پـه دغـه صحنـه کـې دجګـړې ټولـې ناخوالـې، چـې د میونـد لـه جګـړې وروسـته د ښـار اوسـېدونکي لـه کورونو څخـه شـړل شـوي و، لـه پامـه غورځـول شـوې دي.[۱۳] دغـه البـوم د بریتانیـې بریـا تـه پـه اشـارې او پـه کندهـار کـې د بریتانیـې سیاسـي افسـر تـه پـه درنـاوې، چـې کېـدای شـي دغـه البـوم د نومـوړي نوښـت وبلـل شـي، پـای تـه رسـېږي.

کـه څـه هـم د "کندهار البـوم" په منځنۍ آسـیا کـې د بریتانیې او روس د سیاسـي واک پـر سـر د مبـارزو د غځېـدا سـند دی، مګر بیا هـم د دې سـیمې او د هغـې د دودونو په اړه د نـن ورځـې لیدونکو ته زښـت ډېـر معلومـات وړانـدې کـوي. لـه کندهـار څخه اخیسـتل شـوي دغـه لومړنـي انځورونـه دلتـه پـه افغانسـتان کـې د عامـو وګـړو لپـاره ننـدارې تـه پـه دې موخـه وړانـدې کېـږي، چـې دا بـه د ارزښـتناکو سـوابقو پـه توګـه پایښـت وموومـي او خلـک بـه تـرې د تاریـخ او کلتـور پـه اړه د لا ډېـرو زده کـړو لپـاره الهـام واخلي.

۵. د بریتانوي هند او افغان رهبرانو تر منځ معاهداتو لپاره، سي. یو. "آچیسون ته ورشي، له هند او ګاونډیو هېوادونو سره د معاهداتو او ښکېلتیاو ټولګه" (کلکته: د دولتي چاپخونې د ادارې دفتر، هند، ۱۸۹۲)، ۹: ۴۲۳ تر ۴۲٦ وګورئ.

٦. برایان رابسون اېډېټر "رابرټس په هند کې: د فیلډ مارشال لارډ رابرټس نظامي مقالې ۱۸۷٦–۱۸۹۳" (دوور، ان ایچ: آلن سوتن، ۱۹۹۳)، ۱۵ وګورئ.

۷. ډبلیو. جي. ایسټویک، "لارډ لیټون او د افغانستان جګړه" (لندن: آر. جي. میچل او زامن یې، ۱۸۷۹)، ۳۸.

۸. تورن جنرال رابرټز ته د لیټون لیکنې، ۱۸۷۹ کال د اکتوبر ۲۱ نېټه. رابسن "رابرټس په هند کې"، ۱۳۱–۱۳۳.

۹. رابسن "رابرټس په هند کې"، ۱۱۳.

۱۰. رابسن "رابرټس په هند کې"، ۱۷. همدارنګه د ۱۸۸۰ کال د مې او جولای میاشتو ترمنځ سرلېل ګریفین ته د امیر عبدالرحمن خان لیکنې، چې په هغه کې د افغانستان راتلونکی امیر په منځنۍ آسیا کې د بریتانیې په امپراتورۍ کې کندهار د واقع کېدو په اړه اندېښنه څرګندوي. فیض محمد کاتب، "د افغانستان تاریخ: د فیض محمد کاتب هزاره سراج التواریخ"، ژباړه آر. ډي. مک چیزني او م. م. خرمي (لیدن: برېل، ۲۰۱۳)، ۲: ۳۲۵.

۱۱. جیمز. ډبلیو برایانس، "کندهار سال: په لنډه توګه د نظامي، مدني او مذهبي پوښتنې په توګه په نظر کې ونیول شو" (لندن: ان. پي.، ۱۸۸۰).

۱۲. د ډګروال سر او. بي. سي. سنت. جان محرم راپور، "افغانستان د جګړې د تیاتر په توګه یادښتونه" (سیمله: د دولتي مطبعي مرکزي ځانګه، ۱۸۸۵) وګورئ.

۱۳. فوربز، "د افغانستان د جګړې وروستي پړاوونه"، ٦۹۷؛ او حنا، "د افغانستان دویمه جګړه"، ۴۲۰.

له څرګند حقیقت سره سره، کېدای شي چې یاد انځورونه مغرضانه یادښتونه هم وبلل شي او دلیل یې دا دی، چې ولې او د څه د پاره رامنځ ته شوي دي. د "کندهار البوم" انځورونه د یوه بریتانوي نظامي افسر ډاکټر بنیامین سیمپسون (۱۸۳۱–۱۹۲۳) لخوا اخیستل شوي، ترڅو د افغان-انګلیس په دویمه جګړه (۱۸۷۸–۱۸۸۱) کې بریتانوي لیدلوري ښکاره کړي، چې کېدای شي د بریتانیې پر پارلمان د منځنۍ آسیا لپاره پر بهرنۍ سیاست اغېز وکړي.

ډګروال سیمپسون په ۱۸۸۰ کال کې د هند په بنګال کې د طبي خدماتو په مرکز کې د ډګرمن جراح په حیث کار کاوه. دغه انځورونه د ۱۸۸۰ کال د نومبر د ۲۹ او د ۱۸۸۱ د اپریل ۲۱ تر منځ په داسې حال کې اخیستل شوي دي، چې بنیامین سیمپسن په سویلي افغانستان کې د افغان-انګلیس د دویمې جګړې په پای کې د بریتانوي ځواکونو د وتلو پر مهال د ځمکنیو ځواکونو د مرستیال په توګه په کندهار کې دنده ترسره کوله.[2] نوموړی کندهار ته د یوه ماهر عکاس په صفت راغی، چې د آسام، بنګال، بهوتان او همالیا له خلکو څخه د خپلو اتنوګرافیکي انځورونو له امله مشهور و، او کېدای شي، چې د کندهار ښار په اړه یې له پخوانیو رسمي راپورونو او نشریو څخه معلومات ترلاسه کړي وي. کېدای شي له سیمپسون سره د انځورګرۍ په برخه کې د هغه طبي روزنو په ځانګړې توګه د کیمیا په برخه کې روزنو، مرسته کړې وي، مګر له دې سره سره هغه د موجوده البوم په رامنځ ته کولو کې له ننګونو سره مخ و. د انځورونو په برخه کې سیمپسون د کلوډیون له طریقې څخه ګټه اخیسته، هغه دا چې یو واضح او دقیق انځور به یې پر ښیښه یې نګاتیو باندې ثبت کړ ترڅو یې د بیا تولید زمینه برابره شي. په دغه طریقه کې سربېره پر دې، چې هر پلیټ جلا چمتو کېده، رڼا ته ایښودل کېده، او هر پلیټ په یوه چټکه پروسه کې پرله پسې ترسره کېده، د کمرې درندو وسایلو، ماتېدونکو ښیښه یي پلیټونو او په ډېره پیمانه بې ثباته کیمیاوي موادو ته ضرورت موجود و. اوس پوښتنه دا را پیدا کېږي، چې څه شي سیمپسون دې ته وهڅاوه چې له بنګال څخه، چې ۱۵۰۰ میله واټن کې پروت و، سلګونه پونده وسایل او نازک توکي اکمالات کړي؟ څه شي چې نوموړی یې دېته وهڅاوه، چې د نورو دندو تر څنګ د انځورونو دغه پېچلې ټولګه پلان او ترسره کړي؟ د کندهار په باره کې د بریتانیا د معاصرو ادبیاتو مطالعه له مونږ سره مرسته کوي، چې په هغه څه پوه شو چې انځور شوي دي او هغه څه چې د کمرې له لنز نه پاتې شوي دي.

د "کندهار البوم" کې سیمپسون هر انځور د یوې نښې په واسطه پېژندلی، چاپ کړی او د پرله پسې شمېرې په واسطه یې علامت ګذاری کړی دی. دغه البم د یوه تصویري داستان روایت دی، هغه داستان چې کېدای شي د هغو متقاعدو سرتېرو لخوا، چې د افغانستان په سویل کې یې دنده ترسره کړې، بیان شي. دغه البوم د کندهار تاریخي اهمیت ته په کتو، د احمدشاه زیارت او لویدیځ طرف ته د ښار په منظرې (۱ شمېره، ۹ پلیټ وګورئ)، پیلیږي، ور پسې ختیځ طرف ته د ده خوجه کلي (۴ شمېره، ۲ پلیټ وګورئ)، ته ور اوړي چیرته چې بریتانوي ځواکونو د میوند له ماتې وروسته د عملیاتو ناکامه هڅه وکړه. ورپسې یو درجن انځورونه "د بابا ولي په کوتل پیلیږي، چې د ایوب خان د وسلو د ځای نندارہ وړاندې کوي" (۸ شمېره)، له هغه نه وروسته لویدیځ طرف ته د دښتو منظرې ښودل کېږي، چېرته چې بریتانیه کولای شي د افغان-انګلیس د دویمې جګړې د بریا ادعا وکړي. دا پرانستې لړۍ په دوه انځورونو پای ته رسېږي، چې یو یې یوه ډله بریتانوي افسران "چې تر محاصرې لاندې راغلي و"، ورپسې انځور کې ورځېرمه د ښار له ودانیو سره د اروپایي هدیرې پرله پسې یا (پاناروما) منظره لیدل کېږي، چې په شالید کې یې د اسمان کرښې راتېرې دي. (۲۵، ۲٦، شمېرې او ۳، ۴ پلیټونه وګورئ).

که څه هم، د پاتې انځورونو تفسیر ستونزمن دی لیکن، د انځورونو ځانګړې ډلې څرګندې معنی کانې لري. "د بابا ولي د کوتل انځور" (۲۲ شمېره، ۱۱ پلیټ وګورئ)، چې له ۲۷مو کرښو، چې زیګنال برج ته څېرمه چې د ارګ (۲۳ شمېره) دېوال سره واقع دی، اخیستل شوی دی، چې د ۱۸۸۰ کال د سپتمبر په لومړۍ نېټه د ایوب خان ځواکونو ته د ماتې ورکولو په خاطر د یادو ځایونو ترمنځ د اړیکو په ارزښت باندې ټینګار کوي. هیلوګرافي (د لمر د وړانګو په واسطه مخابره)، د موریس کوډ څخه په ګټه اخیستنه د هندارو په واسطه د لمر د وړانګو د انعکاس له لارې د ځایونو تثبیت دی، چې د بریتانیې د مبارزې لپاره خورا اړین و. په دوه نورو انځورونو کې د زیګنال برج ځانګړتیاوې لیدل کېږي، چې د برج کارکوونکي د اړیکو د اصلي مرکز پر بام ولاړ دي (۲۸ شمېره؛ پلیټ ٦ وګورئ). د یادولو وړ ده، چې یاد برج د ښار په ارګ کې د اړیکو د مرکز په صفت کارېده. د لېږد وړ دغې ټکنالوژۍ کولای شول، چې د پېنځه اینچه هنداري له لارې تر پېنځه اویا میله لرې واټن پورې ورسېږي، چې بریتانوي ځواکونو ته یې هم د جګړې په ډګر کې او هم د کندهار په اشغال کې غوره والی ورکړی و.[3]

په هر حال، سیمپسون د انځورنو په خاطر وستایل شو، مګر، په دې البم کې د ځایي اوسېدونکو د ګوتو په شمېر انځورونه لیدل کېږي. کېدای شي بېلابېل ولري. لیکن، په میوند کې د انګلیس تر سترې ماتې او د کندهار ښار اوسېدونکو د غچ

۲. ایس پي اولیور، "د افغانستان دویمه جګړه، ۱۸۷۸–۱۸۸۰:مختصر رسمي راپور" (لندن: جان موری، ۱۹۰۸)، ٦۱۵ وګورئ.

۳. اګوستوس لي مسیور، "کندهار په ۱۸۷۹" کال کې (لندن: ډبلیو. ایچ. آلن، ۱۸۸۰) ۱۲۵–۱۲٦. همدارنګه جګرن، ای. اس. وین ۵۱م ایل. آی. "په ټولیزه توګه د پوځ هیلوګرافي او زیګنالینګ"، "د شاهي متحدو خدمتونو انستیتیوت" ۲۲، ۱۰۵ شمېره (۱۸۸۰): ۲۳۵–۲۵۸؛ او جرالډ ماریتن "افغانستان ته د استول شوي عملیاتی پوځ سروې: د کرم دره"، "د شاهي جغرافیې د ټولنې د مقالو ټولګه او د جغرافیې میاشتنی" ۱، ۱۰ شمېره (د ۱۸۷۹ کال د اکتوبر میاشت) ٦۲۹.

۴. ځینې سرچینې داسې اټکل کوي چې ۱۵۰۰۰ اوسېدونکي بې ځایه شوي وو. آرچیبالډ فوربز، "د افغانستان د دویمې جګړې د پای پړاوونه، د ۱۸۸۰ کال له آګست تر سپتمبر پورې"، په آرچیبالډ فوربز کې، جورج آلفرډ هنټي او آرتور ګریفیتس، "د نولسمې پېړۍ شخړې" (لندن: کاسل، ۱۸۹۷)، ۲: ٦۹۷؛ او ډګروال ایچ. بي. حنا، "د افغانستان دویمه جګړه: علتونه، ترسره کېدل او پایلې یې" (لندن: کانستېبل، ۱۹۱۰)، ۳: ۴۳۰ وګورئ.

کندهار
د امپریالیزم پر نظریاتو بیا کتنه

فرانسیس ترپاک

> مـورږ نشـو کولی هغه څه ته بدلون ورکړو چې له پخوا شته، مګر کولی شـو د هغه په هکله خپل لیدلوري ته بدلون ورکړو. لیدنه زمـوږ د اوسـني چـار چلنـد یـو لازمـي عنصـر دی، حتـا کـه ډیـری وختونـه پـه غیـر شـعوري توګـه هـم ترسـره شـي.
> — کورنیلوس کاستریادیس[۱]

د افغان-انګلیـس د دویمـې جګـړې (۱۸۸۱–۱۸۸۰م) پـه پـای کـې د کندهـار دېـوال شـوی ښـار د افغـان او بریتانوي-هنـد ځواکونـو ترمنـځ د جګـړې د وروسـتي صحنـې پـه توګـه پاتـې شـوی دی. پـه دغـه ننداړتـون کـې چـې د ګیتـي څېړنیـزې اداري لخـوا چمتو شـوی دی، د "کندهـار البـوم" د انځورونو کاپي ننداري ته وړاندې کېـږي. د کندهـار البـوم د انځورونـو ټولګـه د میونـد لـه مشـهورې جګـړې وروسـته د ښـار حالـت بیانـوي. د میونـد پـه جګـړه کـې افغانانـو سـتره بریـا ترلاسـه کـړه، چـې د ۱۸۸۰ کال د اګسـت پـه میاشـت کـې لـه کابـل څخـه د بریتانوي-هنـد د کومکـي ځواکونـو پـه رارسـېدو سـره جګـړه لـږ څـه آرامـه شـوه.

لکـه د شـعر لپـاره پـه دقـت سـره د کلیمـو غورچـان، د "کندهـار البـوم" کـې هـر انځـور پـه بشـپړه توګـه لـه معنـا سـره چـوکاټ شـوی دی، چـې د البـوم د داسـتان لـه بیـان سـره پـه ځانګـړي ډول مرسـته کـوي. د ښـار لـه دېوالونـو څخـه اخیسـتل شـوې منظـرې د بریتانـوي توپخانـې او سـرتېرو پراخوالـی ښـیي، چـې د کندهار ارګ تـه څېرمـه ځـای پر ځـای او یوې سـترې دلـې یـې تر لـرې واټن پـورې د احمدشـاه مقبـرې تـه څېرمـه لنګر اچولـی و (۴۹ شـمېرې، ۱ پلیـټ وګـورئ). نـور انځورونـه، چـې د بریتانیـې د پلـي ځـواک لـه لیدلـوري اخیسـتل شـوي دي، د کندهـار ښـار پـه شـاوخوا کـې د مهمو سـیمو لکـه: د ده خوجه کلي (۵ شـمېره)، د بابـا ولي کوتل (۲۲ شـمېره، ۱۱ پلیـټ وګـورئ)، او کاریز تپـه (۱۳ شـمېره، ۱۷ پلیټ وګـورئ) کـې د محاصرې بېلابېلـې اقلیمي شـېبې ښـیي. د ښـار لـه دروازو څخـه د ګنـې ګونـې د تېرېـدو د صحنـې د ثبـت پـه حـال کـې د کمـرې دوربین لـه قصـده د یـوه بریتانـوي سـرتېري طرف ته ور اوښـتی، چـې د یـادې صحنـې سـیل کـوي. (۳٦ شـمېره، ۲۳ پلیـټ وګـورئ). د دواړو خـواو اسـتازي پـه ګروپـي انځورونـو کـې انځـور شـوي دي، چـې پـه یـوه انځـور کـې د ایـوب خـان (وېرېدونکـي افغـان رهبـر)، چـې د ښـار د بېرتـه نیولـو لپـاره یـې جګـړه کولـه، اسـتازي (۳۰ شـمېره، ۲٦ لیـټ وګـورئ)، او پـه بـل انځـور کـې د بریتانوي-هنـد افسـران، چـې د محاصرې څخـه د ژونـدي پاتـې کېدلـو خوښـي لمانځـي (۲۰ شـمېره، ۵ پلیټ وګورئ)، لیـدل کېږي. لـه یوه اړخـه، دغـه انځورونـه د افغان-انګلیـس له دویمـې جګـړې څخـه د بریتانیـې د پرېکنـده بریـا پـه توګـه ناسـم تصویـر وړانـدې کـوي، مګـر له بلـه اړخـه، یـاد انځورونـه د کندهـار اوږد مهاله حال او دا چـې د ښـکېلاک دغـې لنډ مهالـه دروې د ښـار خوځنـد میراث بیخـي لـه منځـه نـه دی وړی، پـه وضعیـت بانـدې رڼـا اچـوي.

پـه اوس وخـت کـې انځورونـه د ژونـد نـه بېلېدونکـې برخـه جـوړوي، چـې هـر ځای هـره شـېبه پـه سـم لاسـي توګـه اخیسـتل کېـدای شـي. پـه هـر حـال، د کندهـار پـه البـوم کـې موجـود انځورونـه، چـې پـه نولسـمه پېړۍ کـې اخیسـتل شـوي دي، نایابه انځورونـه دي، چـې د اشـرافو د ژونـد د ښـه اقتصـادي حالـت ښـکارندویي کـوي. دغـه انځورونـه لـه کندهـار څخـه د لومړنیـو اخیسـتل شـویو تصویرونـو پـه توګه پېژندل شـوي دي، چـې ښـار، د هغـه اوسـېدونکي او کلتـور یـې مسـتند کـړی دی. د انځورونـو

۱. کورنیلوس کاستوریادیس، "فلسفه، سیاست، خپلواکي: د سیاسي فلسفې په اړه مقاله"، (اکسفورډ: د اکسفورډ پوهنتون مطبعه، ۱۹۹۱)، ۴.

که توسط بریتانوی ها منصوب شده بود، هستند (شماره ۳۰ الف. به پلیت ۳۲ نگاه کنید). برعکس، چند عکس از ساکنان محلی بر پرترۀ گروهی از هزاره ها (شماره ۲۹؛ به پلیت ۲۷ نگاه کنید)، پارسیوان ها (شماره ۳۳؛ به پلیت ۲۸ نگاه کنید) و تیموری ها (شماره ۳۴؛ به پلیت ۲۹ نگاه کنید) متمرکز گردیده است، یا دو تن از افغان های که اسپ می فروشند (شماره ۵۵؛ به پلیت ۲۴ نگاه کنید)، یک بلوچی که خیرات طلب می کند (شماره ۵۸؛ به پلیت ۲۵ نگاه کنید) باشندگان بومی را در زیارت (شماره ۳۲؛ به پلیت ١٦ نگاه کنید) را نشان می دهد. سیمپسون ممکن است در عکاسی از این اقلیت های افغانستان، مخاطبان باسواد انگلیسی را در ذهن داشته باشد که با این جوامع آشنا بوده اند یا در مورد کمکی که آنها به نیروهای انگلیسی در افغانستان در جنگ اول انگلیس-افغان نموده اند، معلومات داشته اند.

مناظر گسترده از اطراف شهر از هر جهت و همچنان نماهای به سمت دیوارهای آن نشان می دهد که این عکس ها برای نقشه برداری از شهر و اطراف آن برای اقدامات آینده در این منطقه، گرفته شده اند. تصاویر سیمپسون از قندهار به معنای دور شدن او از عکاسی و کار مردم نگاری است، که حاکی از درخواست رسمی برای این نوع عکس ها و مناظر است، یا اینکه او با الحاق جنوب افغانستان موافق بود.

قندهار مرکز اصلی تجارت در قسمت جنوبی منطقه بود و بسیاری از انگلیسی ها برای حفظ قدرت خود در شبه قارۀ هند، آنرا حیاتی می دانستند.[۵] از اوایل قرن نوزدهم، وایسرای بریتانوی و دولت هند از نفوذ روسیه به آسیای میانه، که در سال ۱۸۷٦ میلادی مرز روسیه تا دوصد مایلی شمال کابل پیش آمده بود، هراس داشتند.[٦] برای مقابله با این موضوع، حزب محافظه کار از "پالیسی رو به جلو" در پارلمان حمایت کرد. از جملۀ "قدرتمندترین و سرسخت ترین" حامیان این پالیسی سر هنری راولینسون، نمایندۀ سیاسی سابق بریتانیا در افغانستان پایین و بعداً رئیس انجمن سلطنتی جغرافیا، بود.[۷] همچنان، لارد ادوارد رابرت بولور-لیتون، وایسرای هند از سال ۱۸۷٦ تا ۱۸۸۰، نیز از حامیان این پالیسی بود. در جریان سالهای اول جنگ دوم ت لیتون در مورد اشغال کامل افغانستان حرف می زد، اما در طی یک سال او و دیگر شخصیتهای تأثیرگذار به این نتیجه رسیدند که افغانستان باید به چند بخش تقسیم گردیده، و قندهار توسط انگلیسی ها حفظ شود.[۹] اگرچه، دولت لیبرالِ که در اپریل ۱۸۸۰ میلادی توسط پارلمان تشکیل شد، دستور داد که نیروهای انگلیسی از قندهار باید به هند برگردند، اما حتی در پایان جنگ دوم افغان-انگلیس نیز نظر محافظه کاران این بود که قندهار باید توسط انگلیس حفظ می شد.[۱۰] آیا این گرایش می تواند انگیزۀ ایجاد این عکس ها از این شهر باشد؟ موضوعات منتشر شده در مورد مسئله قندهار توسط اعضای انجمن سلطنتی جغرافیا، جایی که کاپی از "آلبوم قندهار" در آن حفظ و نگهداری می گردد، این گمان را تقویت می کند.[۱۱]

هرچند، این آلبوم ظاهراً جنگ قندهار را ثبت کرده است، اما نتیجه گیری و تأکید آن بر مناظر وسیع نشان می دهد که آلبوم مذکور یک سند اطلاعاتی نظامی و مشابه گزارش های متعددی بود که توسط چاپخانه های دولت به چاپ رسیده بود.[۱۲] در حقیقت، عکس یکی مانده به آخر (هفتاد و یکم) خاطرۀ دگروال سنت جان، عالی ترین مقام سیاسی در قندهار در زمان اشغال انگلیس را گرامی می دارد که نقش مهمی در ایجاد ارتباط بین رهبران افغانستان و نائب السلطنه انگلیس در هند بازی نمود و در نهایت نتیجۀ جنگ قندهار را رقم زد. عکسی که از یک نقطۀ پایین گرفته شده محل اقامت پُرزرق و برق سنت جان با کارکنان خانه اش که در مقابل صحنه قرار گرفته اند، را نشان می دهد و وی در سمت راست ایستاده شده و در مقابل دوربین ژست گرفته است (شماره ۴۷: به پلیت ۳۱ نگاه کنید). این صحنه، خشونت های جنگی را که ساکنان این شهر را پس از جنگ میوند از خانه های شان آواره کرده است، نادیده می گیرد.[۱۳] این آلبوم با اشاره به پیروزی انگلیس و ادای احترام به رئیس سیاسی که ممکن است ایجاد این آلبوم از ابتکارات وی بوده باشد به پایان می رسد.

